ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ

# اباديِ
پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۱۱ | مسلسل نمبر: ۱۴۹

پنجشنبه، صفرالظفر۲۹، ۱۴۴۸هـ.ق کال

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او راتلونکو فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر سره ولیدل



۲ صفحه

## په هرات کې د زون په کچه معیاري لابراتوار ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



۳مه صفحه

## د تاپي پروژې د عملي چارو چټکتیا؛ د افغانستان او ترکمنستان د اقتصادي همکاریو نوی پړاو




۵مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د اسد میاشتې په ۱۸مه هرات ولایت ته په خپل دوه ورځني سفر کې د هرات ولایت په تور غونډۍ کې د تاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د راتلونکو ګډو اقتصادي فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره وکتل. دغه راز یې په هرات ولایت کې د ګلبهار سیمنټو د نوې تولیدي فابریکې د بنسټ ډبره کېښوده او د سویل-لویدیځ زون په کچه یې د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار هم ګټې اخیستنې ته وسپاره. د تاپي د ګازو نل‌لیکه د سیمې په ځانګړي ډول افغانستان له پاره یوه ستره اقتصادي لاسته راوړنه ده. د دې پروژې په عملي کېدو سره به نه یوازې اقتصادي تحرک پیاوړی شي، بلکې په منځنۍ او سویلي اسیا کې به د افغانستان پر اقتصادي او ستراتیژیک موقف او اهمیت هم مثبت تاثیر وکړي. محترم حاجي ملا صاحب د ګلبهار د سیمنټو فابریکې د بنسټ ډبره هم کېښوده. د سیمنټو صنعت د پرمختګ په صورت کې اقتصادي او صنعتي وده او د زیربناوو پراختیا رامنځته کیږي. د دې صنعت په غوړېدو سره هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته کیږي، له بهر څخه د سیمنټو واردات کم او صادرات زیاتیږي. دغه راز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سویل-لویدیځ زون په کچه د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار هم ګټې اخیستنې ته وسپاره. د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار په جوړېدو سره به موږ پر دې وتوانیږو چې خپل محصولات او تولیدات په نړیوالو معیارونو برابر نورو هېوادونو ته صادر کړو. دغه راز د همدې لابراتوارونو له لارې کولی شو چې هېواد ته د بې کیفیته توکو وارداتو بند کړو. اسلامي امارت غواړي په سیمه ییزه کچه د افغانستان ستراتیژیک موقعیت ثابت کړي. د دې چارې له پاره یې هڅه وکړه چې د تاپي پروژه پیل کړي او دا مهال د دې پروژې چارې له ترکمنستان څخه د افغانستان تر هرات پورې په چټکۍ سره روانې او پر ټاکلي وخت به پای ته ورسیږي. هرات ته د تاپي پروژې د ګازو په رارسیدو سره به نه یوازې د هرات ولایت صنعت پراختیا پیدا کړي بلکې د هېواد په کچه به د دې ګازو په کارولو سره صنعتي وده چټکه شي. دغه راز د ګلبهار د سیمنټو فابریکې په جوړېدو سره به نه یوازې د سیمنټو صنعت وده وکړي بلکې پر مټ به یې د هېواد د اړتیا وړ یوه برخه سیمنټ هم برابر شي. د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار له لارې به مو خپل محصولات او تولیدات معیاري او د بې کیفیته وارداتو مخه به ونیول شي. دا ټول هغه څه دي چې د افغانستان د اقتصادي ودې او پرمختګ لامل ګرځي. اسلامي امارت تل هڅه کوي چې د سترو او سیمه ییزو پروژو په پلي کولو، په کور د ننه د اقتصادي ودې له پاره د زیربناوو په رغولو سره د هېواد اقتصاد پیاوړی او هېواد د پرمختګ په لور روان کړي.

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ټاپي پروژې د وروستیو پرمختګونو او راټلونکو فعالیتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر سره ولیدل



د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، هرات ولایت ته د خپل سـفر په ترڅ کې، د ۱۴۰۵کال د اسد میاشتې په ۱۹مه نېټه، د هرات ولایت په تور غونډۍ کې د ټاپي پروژې د وروســتیو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنستان د راتلونکو ګډو اقتصادي فعالیتونو په اړه د ترکمنســتان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره خبرې وکړې. مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هرات ولایت کې د ټاپي پروژې د کاري پرمختګ شریکولو په موخه ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف ته ښه راغلاست ووایه او خوښــي یې څرګنده کړه، چې په هرات ولایت کې د ټاپي پروژې کارونه په ښـــه ډول روان دي او تمه ده چې پاتې چارې به یې په ټاکلي وخت بشپړې شي. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان له ملي رهبره وغوښتل چې دواړه هېوادونه د ګازو د قیمت په اړه هوکړې ته ورسېږي او د قیمت ټاکلو فورمول داسې تعدیل شي، چې د ګازو په قیمت کې د اروپایي بازارونو د شـــدیدو بدلونونو له اغېزو خڅه مخنیوی وشي. محترم ملا صاحب زیاته کړه چې دغه قرارداد دې د اوږدې مودې لپاره ترسره، شرایط یې اســـانه او د قرارداد د بیاکتنې انعطاف منونکی مېکانېزم دې هم پکې شـــامل شي. محترم ملا صاحب په هرات ولایت کې د ګازو د وېش او مصرف لپاره د شبکې په جوړولو کې له ترکمـــن لوري د همکارۍ، د ټاپي پروژې د پاتـــې موضوعاتو د حل لپـــاره د ګډ تخنیکـــي او حقوقي کمېســـیون د رامنځته کېدو او په دې پــــروژه کې لا زیاتو افغانانو ته د کاري فرصتونـــو د برابرولو په اړه د ګډو هڅو غوښـــتنه وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې ټاپي د افغانســـتان او ترکمنســـتان ستراتیژیکه ملګرتیا لا پیاوړې کړې او اړتیا ده، چې د سوداګرۍ زیاتېدو لپاره دواړه لـــوري د نفتـــو د ترانزیټ لپاره د آیکریـــم بندر د بیا پرانیستلو، په ترکمن باشي بندر کې د افغانستان د ترانزیټي مالونـــو لپاره د اســـانتیاوو برابرولو، د لاجوردو مســـیر د بیا فعالولو په برخه کې د شـــته ســـتونزو د حـــل، د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ شبکې د بیارغونې او پراختیا لپاره پـــه مشترک ډول کار وکړي. محترم ملا صاحب له ترکمن لوري وغوښتل چې په افغانستان کې د برېښنا او ترانسپورټ لویو اقتصادي پروژو ملاتړ وکړي. وروســـې د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف خبرې وکړې. هغه وویل، د ترکمنستان او افغانستان اړیکې د نیک نیت او ښه ګاونډیتوب پر اساس پیاوړې شوې، چې په مختلفو برخو کې یې د ګډو همکاریو فرصتونه رامنځته کړي. هغه زیاته کړه، هرات ولایـــت ته د ټاپي نللیکې د پایپ غځولو ترڅنګ په هرات ولایت کې د ګازو د توزیع شبکې جوړولو او همداراز د ټاپ پروژې د عـــملي چارو د پیل لپاره چمتو دي. د ترکمنســـتان رهبر وویل، په ټاپ پروژه کې یوشمېر بهرنیو شرکتونـــو د پانګونې لپاره چمتووالی ښـــودلی دی. ښـــاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف زیاته کړه، عشق اباد چمتو دی چـــې په ترکمن باشي بندر کې د افغانســـتان د ترانزیټي او ســـوداګریزو توکو لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې کړي. هغـــه همدارز د دواړو هېوادونو او ســـیمې ترمنځ د ســـوداګرۍ زیاتېدو لپاره د لاجوردو مسیر د فعالولو لپاره پر مشترکو هڅو ټینګار وکړ. نوموړي افغان لوري ته اطمینان ورکړ چې په افغانستان کې د برېښـــنا او اوسپنې پټلۍ په برخو کې د پیل شوو پروژو کارونه به په ټاکلو نېټو او چټکتیا سره بشـــپړ کړي. په پای کې دواړو لورو د ټاپي ترڅنګ د ټاپ، نوري فایبر او اوسپنې پټلۍ پروژو د تعقیب او تطبیق په موخه د لوړپوړو مســـوولینو په مشرۍ د تخنیکي کمېټې پر جوړولو هوکړه وکړه، څو د یادو پروژو کارونه په ښه ډول پرمخ ولاړ شي.

## د افغان ګاز او ترکمن ګاز شرکتونو ترمنځ د ټاپي پروژې د ګازو پیرلو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغنـــي برادر اخونـــد او د ترکمنســـتان د ملي رهبر ښـــاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف په حضور کې، د ۱۴۰۵ کال د اســـد میاشـــتې په ۱۹مـــه نېټه، د هرات ولایـــت په تورغونډۍ کې د افغان ګاز امارتي شرکت او ترکمـــن ګاز ترکمني شرکت ترمنځ د ټاپي پروژې د ګازو د پیرلو تفاهم‌نامه لاســـلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخـــې به د ګازو قیمت، د ګازو د اړتیـــا کچې معلومولو او همدارز د ګازو توزیع پروســـه مشخصه شي.

## په هرات کې د زون په کچه معياري لابراتوار ګټې اخيستنې ته وسپارل شو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په ۱۸مه نېټه هرات ولايت ته د سفر په ترڅ کې په دغه ولايت کې د سويل-لويديځ زون په کچه د خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو د کيفيت ارزونې معياري لابراتوار ګټې اخيستنې ته وسپاره. د ګټې اخيستنې مراسمو کې د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي او د کابينې ځينو محترمو غړو هم حضور درلود. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خبرو کې وويل چې افغانستان د اقتصادي ودې په برخه کې لومړني ګامونه اوچت کړي او اړتيا ده، چې له ملي او نړيوالو معيارونو سره سم محصولات او خدمات وړاندې او د محصولاتو د توريد په برخه کې ټاکل شوي معيارونه په سمه توګه رعايت شي. محترم ملا صاحب په دې برخه



کې د معياري لابراتوارونو فعاليت مهم ياد کړ، چې له مخې يې د محصولاتو او توليداتو کيفيت او اعتبار تضمينيږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، له دې وروسته به افغانستان ته له ګاونډيو او نورو هېوادونو د وارد‌ېدونکو خوراکي توکو، درملو او صحي محصولاتو کيفيت او اعتبار د همدې لابراتوار پر بنسټ ارزول کېږي. په دې سره به د بې کيفيته، تقلبي او غير معياري توکو د وارداتو مخنيوی وشي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل چې دغه لابراتوار به د وارداتي توکو ترڅنګ د کورنيو توليداتو د کيفيت د تثبيت او د صادراتو د پراختيا په برخه کې هم فعاليت کوي. په دې سره به افغاني محصولات د کيفيت له اړخه له نورو هېوادونو سره سيالي ترسره او په نړيوالو بازارونو کې به د اعتبار وړ ځای خپل کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له ټولو سوداګرو په کلکه وغوښتل چې هېواد ته بې کيفيته توکي وارد نه کړي: «د پخوا غوندې په ټينګار درڅخه غواړم چې د شخصي ګټې لپاره هېواد ته بې کيفيته، غير معياري او د خلکو روغتيا ته زيان رسوونکي توکي مه راوړئ. که چا داسې توکي راوړل پرته له شکه مستردېږي او په هېڅ صورت د دې ډول محصولاتو وارداتو ته اجازه نه ورکول کېږي.» محترم ملا صاحب په کورنيو توليدونکو شرکتونو او فابريکو هم غږ وکړ چې د محصولاتو کيفيت ته پوره پاملرنه وکړي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ګلبهار سيمنټو د نوي فابريکې د بنسټ ډبره کېښوده

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په ۱۸مه نېټه په هرات ولايت کې د ګلبهار سيمنټو د نوي توليدي فابريکې د بنسټ ډبره کېښوده. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال



توليدي فابريکې د کورنيو اړتياوو د پوره کولو، د صادراتو زياتوالي، ملي عوايدو او د هېواد د اقتصادي ودې لپاره مهمې وبللې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سيمنټو د توليد په برخه کې د دې فابريکې جوړېدل د ځان بسياينې پر لور مهم ګام ياد کړ او ويې ويل، په دې سره به په وارداتي سيمنټو تکيه راکمه، هېوادوالو ته به د کار زمينه برابره او ساختماني چارې به ورسره پراختيا ومومي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، چې افغانستان د طبيعي زېرمو له امله غني هېواد دی او د افغانستان اسلامي امارت د شته امکاناتو څخه په ګټې اخيستنې هڅه کوي، څو د هېواد اقتصادي زېربناوې ورغوي. محترم ملا صاحب وويل: «د معاصرو اقتصادي اړيکو له نظره، موږ د خپل هېواد سياسي او اقتصادي جغرافيې ته د اقتصادي او سوداګريزې دروازې په سترګه ګورو؛ جغرافيوي سرحدونه مو د سوداګريزو اړيکو او مناسباتو په مرکزونو بدل کړي دي؛ د سرحدي خطرونو کچه مو صفر ته راټيټه کړې ده، هېڅ وخت مو هڅه

نه ده کړې چې ســوداګرۍ له سیاسي مسایلو سره وتړو؛ تل هڅه کوو چې د مناسبې اقتصادي ډیپلوماسۍ له لارې سیمه ییــزو او نړیوالو اړیکو ته دوام ورکړو.» محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند وویــل، د پانګوالو د ملاتړ پــه موخه مالیاتي تخفیفونه، معافیتونه او نور اړین تسهیلات رامنځته شوي او اسلامي امارت لا ډېره هڅه کوي، چې د مالي او بانکي محدودیتونو اغېزې راکمې او شــته ستونزو ته مناسبې حل لارې پیدا کړي. د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه: «افغانان واحد ملت دی؛ درد، غم او خوشــحالۍ یې سره شریکــې دي؛ دلته هېڅوک له یــو او بل بېل نه دي. ولس مو هوښیار دی او له ترخو تجربو یې زده کړه کړې ده. له یوې خوا د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د ټولې جغرافیې اوسنی ارام وضعیت ساتلی شي او له بل لوري زموږ ولس هم نور شر اچوونکو کړیو ته په خپله خاوره کې اجازه نه ورکوي.» په پای کې مــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند له اړوندو مسوولینو او د فابریکې له تخنیکي ټیم څخه وغوښتل چې د فابریکې د جوړېدو چارې په ټاکلي وخت او ښه کیفیت سره بشپړې کړي

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند نورستان ولایت ته سفر وکړ



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمریز کال د اســد میاشتې په ۱۲مه نېټه نورستان ولایت ته سفر وکړ او په دغه ولایت کې یې د وروستیو سیلابونو له امله له زیانمن شوو هېوادوالو سره خواخوږي څرګنده کړه. محترم ملا صاحب شهیدانو ته د جنت‌الفــردوس او ټپیانو ته د عاجلــې روغتیا دعا وکړه. محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند وویل، په لومړیو ورځو کې د افغانستان اسلامي امارت د اړوندو ادارو مسوولینو د پېښې ځای ته ځانونه رسولي وو او د هېوادوالو د ژغورنې لپــاره یې لــه ټولــو امکاناتــو اســتفاده کــړې وه. د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیانمن شوو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به له ټولو شــته امکاناتو څخه په استفادې د دوی لاسنیوی وکړي او زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت مســوولین د ولس خادمان دي او د ولس ســتونزو ته په وخت رسېدنه کوي. د دې ســفر پرمهال د خصوصي ســکټور استازو هم حضور درلود چې له زیانمن شوو هېوادوالو سره یې نغدي مرستې وکړې. د نورســتان ولایت علماوو، ســپین ږیرو او زیانمن شــوو هېوادوالو د زړه له تله له اسلامي امارت څخه مننه وکړه، چې دوی یې په ســخت حالــت کې هېر نــه کړل او د غمرازۍ په موخه یې امارتي مســوولینو سیمې ته سفرونه وکړل. د سیمې خلکو اسلامي امارت د ځان او ولس نظام وباله او له نظام څخه یــې خپل ملاتړ څرګند کړ. هغوی خپلې غوښــتنې او ســتونزې شریکې کړې او محترم ملا صاحب یې د حل ډاډ ورکړ

## د تراکتورونو او کرنیزو ماشینونو د مونتاژ او تدریجي تولید طرحه د تایید وړ وبلل شوه



د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتــي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د اســد میاشــتې په شــپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شــوه. غونډې ته د خصوصي سکټور له لوري په هېــواد کې د تراکتورونو او کرنیزو ماشــینونو د مونتــاژ او تدریجي تولید طرحه د بحــث له پاره وړاندې شوه، چې له ارزونې وروســته د تایید وړ وبلل شوه. دغه راز، په غونډه کې د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان کې د عامې روغتیا وزارت پر ځمکه د کفتریا او هټیو جوړولو طرحه هم له ارزونې وروسته د تایید وړ وبلل شوه.

# در خاک افغانستان ۱۱۶ کیلومتر پایپ لاین پروژه تاپی تمدید یافته است

امارت اسلامی افغانســـتان به‌منظور اســـتفاده از موقعیت جغرافیایی کشـــور و تقویت اتصال منطقه‌ای، زمینه تطبیق تمامـــی پروژه‌های منطقـــه‌ای را که موجب رشـــد اقتصاد افغانستان و گسترش همکاری‌های منطقه‌ای می‌شود، فراهم کرده است. یکی از این پروژه‌ها، پروژه پایپ‌لاین گاز تاپی اســـت که در حال حاضر در خاک افغانســـتان، ۱۱۶ کیلومتر پایپ لاین آن تمدید و ولدینگ شده و ۱۳۵ کیلومتر دیگر مسیر نیز برای تمدید پایپ لاین آماده گردیده است. تا



اکنون ۳۸ کیلومتر پایپ‌لاین نیـــز زیر زمین تمدید گردیده است. بر اســـاس پلان، قرار است کار تمدید پایپ لاین تا پایان سال ۲۰۲۶ میلادی تکمیل شود. همچنان، در آینده نزدیک کارهای سروی و دیزاین شـــبکه توزیع گاز در شهر هرات نیز آغاز خواهد شـــد. با رســـیدن گاز به شهر هرات، فعالیت‌های صنعتی در آن ولایـــت بیش از پیش گسترش خواهـــد یافت. صدها فابریکه صنعتـــی و تولیدی در هرات فعال خواهد شد و برای صدها هزار تن از هموطنان نیز زمینه کار مســـاعد می‌گردد. از این گاز در بخـــش تولید برق نیز استفاده خواهد شد که با این کار، صنعت به‌گونه چشمگیری توسعه خواهد یافت، وابســـتگی افغانستان به برق وارداتی کاهش یافتـــه و برق به شمار زیـــادی از هموطنان خواهد رسید. قابل یاد آوریست که محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاســـت‌الوزراء، از جریان کار عملی پروژه تاپـــی در خاک افغانســـتان دیدار کرده و همـــواره با جانب ترکمنســـتان در مورد پیشبرد به‌موقع کارها گفتگو نموده و از هرگونه همکاری به آنان اطمینان داده است.



# د تاپي پروژې د عملي چارو چټکتیا؛

## د افغانســـتان او ترکمنستان د اقتصـــادي همکاريـــو نوی پــــړاو

زاهد خان

### مقدمه

د افغانستان اسلامـــي امـــارت د هـــېواد لـــه جغرافيوي موقعيـــت څخـــه د اغېزناکـــې اســـتفادې او د ســـيمه‌ييز اتصـــال د پياوړتيـــا پـــه موخـــه د هغـــو ســـيمه‌ييزو او اقتصادي پروژو د عملي کېدو له پـــاره دې زمينه برابره کـــړې، چـــې د افغانســـتان اقتصادي وده، د عوايـــدو زياتوالـــی، د کاري فرصتونـــو رامنځتـــه کېـــدل او لـــه ګاونډيـــو او ســـيمه‌ييزو هېوادونـــو سره د اقتصـــادي همکاريـــو پراختيا ورسره تړاو لري. د تاپي ګازو نلليکه له دغو مهمو پروژو څخه ده چې د افغانســـتان له پاره د انـــرژۍ، ترانزيټ او ســـيمه‌ييز اتصال لـــه پلوه ځانګړی اهميـــت لري. د تاپي پروژې عملي چارو په افغانســـتان کـــې د پـــام وړ پرمختګ کړی او د دې پـــروژې د پايپ غځونـــې او ويلډينګ چارې د هېواد په خاوره کې رواني دي. تر اوسه د تاپي پروژې ۱۱۶ کيلومتره پايپ غځول او ويلډينـــګ شـــوی، ۱۳۵ کيلـــومتره نور مســـير د پايپ غځونې لپاره چمتو شـــوی او ۳۸ کيلومتره پايپ لاين تر ځمکې لاندې خښ شـــوی دی. د پلان له مخې، ټاکل شـــوې چې د پايپ غځونې چـــارې د ۲۰۲۶ کال تر پايه تر هرات پورې بشپړې شي.

### د تاپي پروژې د عملي چارو پرمختګ او د پاتې موضوعاتو د حل هڅې

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات ولايت د سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په ۱۹مه نېټه د هرات ولايت په تورغونډۍ کې د تاپي پروژې د وروستيو پرمختګونو او د افغانستان او ترکمنســـتان د راتلونکو ګډو اقتصـــادي فعاليتونو په اړه د ترکمنستان له ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف سره خبرې وکړې. په دې ليدنه کې د تاپي پروژې د عملي چـــارو پر پرمختګ، د پاتې کارونو پر بشـــپړېدو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاريو پر پراختيا بحث وشو.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ټاپي پروژې د کارونو له روان وضعيت څخه خوښـــي څرګنده کـــړه او هيله يې وښوده چې پاتې چارې به يې په ټاکلي وخت بشپړې شي.
دواړو لورو د ټاپي پروژې د عـــملي کېدو ترڅنګ د ګازو د بيې، د قرارداد د شرايطو او د بيې ټاکلو د فورمول په اړه هم خبرې وکړې. د افغانستان له لوري وړانديز وشو چې د ګازو د بيې ټاکلو فورمول داســـې تعديل شي، چـــې د اروپايي بازارونو د شـــديدو بدلونونو اغېزې پرې کمې شي. همداراز ټينګار وشو چې د ګازو قرارداد دې اوږدمهاله وي، شرايط يې اســـانه او د قرارداد د بياکتنې لپاره دې انعطاف منونکی مېکانېزم ولري.
په هـــرات کې د ګازو د وېش او مصرف له پاره د شـــبکې جوړول، د ټاپي پروژې د پاتې موضوعاتو د حل له پاره د ګډ تخنيکي کمېسيون رامنځته کول او په پروژه کې د لا زياتو افغانانو له پـــاره د کاري فرصتونو برابـــرول هم د بحث له مهمو موضوعاتو څخه وو.

### ټاپي؛ د سيمه‌ييز اتصال او اقتصادي همکاريو د پراختيا محور

د ټاپي پروژه يـــوازې د ګازو د انتقال پروژه نه ده، بلکې د افغانستان او ترکمنســـتان ترمنځ د ستراتيژيکو اقتصادي همکاريو د پراختيا او د ســـيمه‌ييز اتصال د پياوړتيا له پاره هم مهمه پروژه ګڼل کېږي. د دې پروژې ترڅنګ دواړه هېوادونه غواړي د ســـوداګرۍ، ترانزيټ، انرژۍ، اوسپنې پټلۍ او مخابراتو په برخو کې خپلې ګډې همکارۍ پراخه کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په دې ليدنه کې د نفتـــو د ترانزيټ لپاره د آيکريم بندر د بيا پرانيســـتلو، په ترکمـــن بـــاشي بنـــدر کـــې د افغانســـتان د ترانزيټي او سوداګريزو مالونو له پاره د اســـانتياوو برابرولو، د لاجوردو مســـير د بيا فعالولو، د هرات ـ تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ د بيارغونـــې او پراختيا او په افغانســـتان کې د برېښـــنا او ترانسپورټ د لويو اقتصادي پروژو د ملاتړ غوښتنه وکړه.
د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربان‌قلي بردي محمدوف هم د دواړو هېوادونو اړيکې د نيک نيت او ښه ګاونډيتوب پر بنســـټ وبللې او ويې ويل چې عشـــق‌اباد چمتو دی په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي. نوموړي ووېل چې ترکمنستان په هرات کې د ګازو د توزيع شـــبکې د جوړولو او د ټاپ پروژې د عملي چارو د پيل له پاره چمتو دی او په دې پروژه کې يو شـــمېر بهرنيو شرکتونو د پانګونې له پاره چمتووالی ښودلی دی. نوموړي همـــداراز ډاډ ورکړ چې پـــه ترکمن باشي بنـــدر کې به د افغانســـتان د ترانزيټي او ســـوداګريزو توکو له پاره لازمې اسانتياوې برابرې شي او د لاجوردو مسير د فعالولو له پاره به ګډې هڅې دوام ومومي. د برېښـــنا او اوسپنې پټلۍ په برخو کې يې هم د پيل شـــويو پروژو د چارو د ټاکلو نېټو له مخې د بشپړېدو ډاډ ورکړ. د دواړو لورو ترمنځ د ټاپي ترڅنګ د ټاپ، نوري فايبر او اوسپنې پټلۍ پروژو د تعقيب او تطبيق له پاره د لوړپوړو مســـوولينو په مشرۍ د تخنيکي کمېټې پر جوړولو هم هوکړه وشوه، څو د دغو پروژو چارې په منظم ډول تعقيب او په ښه ډول پرمخ ولاړې شي.

### پايله

د ټاپي پروژې په افغانســـتان کـــې د عملي چارو چټکتيا د هېواد د اقتصادي او ســـيمه‌ييز اتصـــال په برخه کې مهم پرمختګ بلل کېـــږي. د ۱۱۶ کيلـــومتره پايپ غځول او ويلډينګ، د ۱۳۵ کيلومتره مســـير چمتـــو کېدل او د ۳۸ کيلومتره پايپ لاين خښـــول ښيي چې پروژه د عملي کېدو په مهم پـــړاو کـــې ده. د دې ترڅنګ، د افغانســـتان او ترکمنستان ترمنځ د ګاز، برېښنا، اوسپنې پټلۍ، ترانزيټ او ســـوداګرۍ په برخو کې د همکاريـــو پراختيا کولی شي د دواړو هېوادونو اقتصادي اړيکې لا پياوړې کړي.
د ټاپي، ټاپ، نوري فايبر او اوســـپنې پټلۍ پروژو د تعقيب لپاره د ګډې تخنيکي کمېټې جوړېدل هم د دې څرګندونه کوي چې دواړه لـــوري غواړي د هوکړو د عملي کېدو بهير منظـــم او چټک کړي. کـــه پاتې تخنيکـــي او اقتصادي موضوعات پر وخت حل شي، دغه پروژې به د افغانستان د اقتصادي ودې، ســـيمه‌ييز اتصال، انرژۍ ته د لاسرسي، ترانزيـــټ او کاري فرصتونـــو د پراختيا له پـــاره لا زيات فرصتونه برابر کړي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۵،۰۰؋ | ۶۵،۰۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلداري | ۲۲۸؋ | ۲۲۹؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰،۳۵؋ | ۰،۳۶؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۴،۵۰؋ | ۷۴،۷۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰،۷۹؋ | ۰،۷۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۴۷؋ | ۷۴۸؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۸۶،۵۰؋ | ۸۶،۸۰؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷،۳۶؋ | ۱۷،۳۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷،۷۰؋ | ۱۷،۷۱؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹،۶۳؋ | ۹،۶۴؋ |

